WNNS امین، عبدالرحیم. (۱۴۰۵). د وردگ پوهنتون د طبیعي علومو څېړنیز ژورنال، ۵ (۱):۲۳۱-۲۴۶

مروري

آزاده لاسرسی

# د امو دریا حوزي د نفتو لاسته راوړل او د افغانستان پر اقتصاد یې اغیز

نوماند پوهنیار عبدالرحیم امین[1*]

کیمیا څانگه، ښوونې او روزنې پوهنځی، میرویس خان نیکه پوهنتون، زابل، افغانستان.

*د مسئول لیکوال برېښنالیک: A.rahimamin420@gmail.com، د اړیکې شمېره:.

+۹۳۷۰۶۰۴۲۷۵۷

**د مقالې تاریخچه:**

د مقالې ترلاسه کولو نېټه: ۱۳/دلو/۱۴۰۴

د مقالې منلو نېټه: ۱۸/حوت/۱۴۰۴

د مقالې خپرولو نېټه: ۱۴/اسد/۱۴۰۵

**ددې مقالې استناد:**

امین عبدالرحیم (۱۴۰۵). د امو دریا حوزي د نفتو لاسته راوړل او د افغانستان پر اقتصاد یې اغیز.

وردگ علمي څېړنیزه مجله ۵ (۱):۲۳۰-۲۴۶

دغه ژورنال د وردگ پوهنتون په چوکاټ کې د لوړو زدکړو وزارت د رسمي جواز پر اساس فعالیت کوي.

CC BY

وردگ پوهنتون علمي څېړنیز نشرات (۱۴۰۵).

زموږ سره اړیکې: ۰۹۳۷۴۵۶۰۶۳۱۷+

**ایمیل**: rjd@wu.edu.af

**آدرس**: سیدآباد ولسوالی، توپ دښته میدان وردگ ولایت- افغانستان

## لنډیز

د امو دریا نفتي حوزه په نړیواله کچه په ۱۵۲ نفتي حوزو کې ۱۵ مقام لري د ټولو نفتو اندازه یې ۹۶۲ میلیونه بشکې اټکل شوي. د چین هیواد د افچین د تیلو ملي شرکت سره د ۲۵ کلونو لپاره د امو دریا نفتي حوزي د استخراج د چارو قرار داد لاسیلک شو؛ د دې قرار داد له مخې به د استخراج شویو نفتو ۷۰ سلنه عاید د دولت خزانې ته د مالیاتي سیستم د اصولو له مخې جمع کیږي چې دا سلنه د دولت په عوایدو کې په کلنې ډول بیسارې اندازه ده، پاتې ۳۰ سلنه اندازه د یاد شرکت سره پاتې کیږي په داسې حال کې چې ټول کلنی عاید له دې نفتي حوزې څخه ۴۰۰ میلیونه ډالره دې. د امو دریا نفتي حوزه د هیواد په کچه لویه طبیعي زیرمه بلل کیږي کوم چې د پراخو نفتي منابعو په درلودلو سره داخلي او نړیوال پانګوال شرکتونه پانګونې ته اماده شوي. د دې څیړنې په اساس کومې چې په کیفي لحاظ تره سره شوي؛ هڅه کړی چې د امودریا نفتي حوزي اقتصادي اهمیت تحلیل کړي، په دې څیړنه کې لمړنېو او ثانوي سرچینو څخه تر لاسه شوي معلومات تحلیل شوی دي. دا څیړنه ښیي چې د نفتو د لاسته راوړلو په جریان کې د چاپیریال ساتنې ټول اصول مراعات شي تر څو یو خوندي او پاک چاپیریال ولرو همدارنګه د نفتو لاسته راوړلو په جریان کې د استخراج سالم مدیریت د اهمیت وړ بلل کیږي تر څو مالیاتي سیستم له ستونزو سره مخ نه شي.

**کلیدي کلمې** : اقتصادي اغیز، امو دریا حوزه، نفت

آزاده لاسرسی

مروري

# Oil Extraction in the Amu Darya Basin and its Impact on Afghanistan Economy

Abdul Rahim Amin*[1]
Chemistry Department, Education Faculty, Mirwais Khan Nika University, Zabul, Afghanistan.
*Corresponding author Email: A.rahimamin420@gmail.com , Tel:+93706042757

**Article History:**
Received: 02. Feb.2026
Accepted: 09. Mar.2026
Online First:05. Aug.2026

**Citation:**
Amin , A.R. (2026). Oil Extraction in the Amu Darya Basin and its Impact on Afghanistan Economy.
Articles to WNNS.
*Wardek J of Soc Sci*
2026;5(1):231-246

**Email**: rjd@wu.edu.af
This is an open access article under the Higher Education license

CC BY

**Copyright**:© 2026
Published by Wardak Universty.

## Abstract

The Amu Darya Oil Basin ranks 15th among 152 oil basins worldwide, with its total oil reserves estimated at 962 million barrels. A 25-year contract for the extraction operations of the Amu Darya Oil Basin was signed between China and the Afghanistan National Oil Company. According to this contract, 70 percent of the revenue generated from the extracted oil will be deposited into the state treasury in accordance with the principles of the taxation system, and this percentage constitutes an unprecedented annual contribution to state revenues. The remaining 30 percent will be retained by the aforementioned company, while the total annual revenue from this oil basin amounts to 400 million US dollars. The Amu Darya Oil Basin is considered one of the largest natural reserves in the country, and due to its vast oil resources, both domestic and international investment companies have become prepared to invest in it. This study, which was conducted qualitatively, attempted to analyze the economic importance of the Amu Darya Oil Basin. In this research, data obtained from primary and secondary sources were analyzed. The study demonstrates that all environmental protection principles must be observed during the process of oil extraction in order to maintain a safe and clean environment. Furthermore, sound management of the extraction process is considered essential to prevent the taxation system from facing challenges.

**Key word**: Economic Impact, Amu Darya Basin,Oil

مروري

آزاده لاسرسی

**سریزه**

الحمدلله رب العالمین والعاقبة للمتقین والصلاة والسلام علی اشرف الانبیأ والمرسلین محمد وعلی آله واصحابه اجمعین.

د امو دریا نفتي حوزه د دافغانستان مربوط ساحه د هیواد په شمال کې موقیعت لري او د هیواد ځیني ولایتونه یې په بر کې نیولي دي، دا چې افغانستان په طبیعي لحاظ د نفتو سترې زیرمې لري له دې جملې څخه یوه یې هم د امو دریا نفتي حوزه ده کوم چې د افغانستان پر اقتصادي ودې په لوړه کچه اغیز لري. د دې حوزې ځیني ځاوې په سرپل، فاریاب او جوزجان ولایتونو کې کشف شوي، د یوې څېړنې له مخې د افغانستان د امو دریا او افغان تاجک حوزو په برخه کې له ۱۵ میلیونو بیلرو زیات د نفتو زیرمې وجود لري.(Arne Strand, 2010) . د یو راپور په حواله چې د کانونو او پټرولیم وزارت له لوري وړاندې شوی ده چې په بریالۍ توګه مو د امو دریا نفتي حوزې څخه د ۸۰ میلیونه ډالرو په ارزښت خام نفت پلورلي دي. د چین هیواد د CAPEIC شرکت د خامو نفتو د تولید کچه تر ۴۹ میلیونو ډالرو پورې زیاته کړې ده. چې له دې سره یې په ورځنې ډول د تولید اندازه اوس ۸۰۰۰بیلرو خام نفتو ته رسیدلې ده. افغانستان تر اوسه له امو دریا نفتي حوزې څخه ۱۵۰ زره ټنه یعنی ۱،۱ میلیونه بیلیره خام نفت د ۸۰ میلیونو ډالرو څخه په زیاته اندازه پلورلي دي همدارنګه د کانونو او پټرولیم وزارت د ویاند په وینا ۱۳۰ زره ټنه خام نفت یې د ۷۱،۶ میلیونو ډالرو په ارزښت بازار ته د خرڅلاو په موخه وړاندې کړي دي په همدې ورځ یې ۲۰ زره ټنه نور خام نفت داوطلبۍ ته وړاندې کړل چې قیمت یې ۱۰،۵ میلیونه ډالره بیان شوی وو، د ا چاره د افغانستان لپاره یوه په زړه پورې او ارزښتناکه بلل شوې ده، ځکه هیواد ته له بهرنیو هیوادونو لکه ایران او ازبکستان څخه هره ورځ ۵۰ زره بیلیره نفت واردیدل.کله چې افغان دولت د چین هیواد له CAPEIC ( Xinjiang (Central Asia Petroleum and Gas Company شرکت سره د نفتو د استخراج ۲۵ کلن قرار داد لاسلیک کړ، یاد شرکت مکلفیت واخیست چې د کال ترپایه د ۱۵۰ میلیونو ډالرو او د ۲۰۲۶ کال پورې به په اجمالي ډول ۵۴۰ میلیونو ډالرو په ارزښت پانګونه کوي، تر اوسه د یاد چیني شرکت له لوري ۴۹ میلیونو ډالرو په ارزښت پانګونه کړې ده چې د افغانستان په اقتصادي ودې او ځان بساینه کې ډیر د اهمیت وړ بلل کیږي.(Kimani, 2024)

په دې داوطلبۍ کې، فارت نوبل انرژي شرکت د هر ټن په مقابل کې ۴٦٦,۲ امریکایي ډالرو سره د قشقري د سیمې لس زره ټنه خامو نفتو قرارداد اخیستی. همدارنګه، دورجي اویل شرکت د هر ټن په مقابل کې د ۳۷۰ امریکایي ډالرو سره د انګوت د سیمې (د سرپل ولایت) د پنځه زره ټنه خامو نفتو قرارداد اخیستی. (پترولیم و. م.، ۱۴۰۲ / ۳/ ۲۱). په امو دریا نفتي حوزه کې د ۲۷ کلونو په موده کې ډیر اکتشافي کارونه تر سره شوي دي که څه هم په دې حوزه کې نور اکتشافي کارونه هم د تر سره کیدای شي. د دې څېړنو پایله دا وه چې د افغانستان په امو دریا حوزه کې ٦ نفتي ځاګاني کشف شوي دي.(Sabawon, 2016) . اوس مهال د سرپل ولایت کې د قشقري څاه څخه په ۲۴ ساعتونو کې ۷۰ ټنه خام تیل استخراجیږي او په راتلونکي کې به دا اندازه ۱۰۰ ټنه ته لوړه شي.(Finance, 2023) . د قشقري اړونده د یوې تر سره سوي څېړنې له مخې د ۱۰،۳ میلیونه بیلیره تیلو په درلودلو سره د ټول میدان شاوخوا ۷.۵ سلنه جوړوي (Mahdi, 2023). د چین هیواد د انرژي شرکت د افغانستان د خامو تیلو په برخه کې د ۴۹ میلیونه افغانیو په ارزښت پانګونه کړي ده کوم چې د دوی په وینا د استخراج دا اندازه به تر ۱۱۰۰ متریک ټنو پورې لوړه کړي. څرنګه چې د شینجیانګ د مرکزي اسیا د تیلو او ګازو شرکت( CAPEIC ) سره مخکې هم په دې برخه کې لاسلیک تر سره سوی وو. د افغانستان اسلامي امارت په لمړي کال د ۱۵۰ میلیونو ډالرو په ارزښت لمړی قرار داد لاسلیک کړ او په دې برخه کې یې یاد شرکت تعهد وکړ چې تر ۲۰۲٦ کال پورې به د پانګونې دا اندازه تر ۵۴۰ میلیونو ډالرو پورې رسوي، په یاده برخه کې تیر کال حکومت تر ۲٦ میلیونو ډالرو پورې عاید تر لاسه کړل. د متحده ایالتونو د جیلوژیکي سروې د ارزونې په اساس د امو دریا حوزې د خامو نفتو اندازه ۹۲٦ میلیونه بیلیره اټکل سوي ده همدا لامل وو چې چینایي شرکت د دومره لوړې پوتانشیلي انرژي د لاسته راوړلو په موخه ۲۲ نورې نفتي څاوې وکیندلې (Dawi, 2024). په یاده برخه کې د چین هیواد د افچین ملي شرکت سره د ۲۵ کلونو په موخه د قرار داد له مخې د کیندنې چارې لاسلیک شوې. دا چې نوموړې نفتي حوزه ۹٦۲ میلیونه بشکې خام نفت لرې کوم چې په نړیواله کچه په ۱۵۲ نفتي او ګازي حوزو کې ۱۵ مقام لرې، د یاد قرار داد له مخې به ۱۵ زره بشکې استخراجوي وي، له دې سره به د هیواد کلنی عاید ۴۰۰ میلیونه ډالره وي چې ۷۰ سلنه عاید به د دولت خزانې ته جمع کیږي. د امریکا د خزانې وزارت د موندنو په اساس چې په ۲۰۰٦ کال کې یې تر سره کړې ښیي چې د انګوت حوزه د ٦ میلیونه بشکو

خامو نفتو په اندازه تیل لري. د یادې حوزې د کیندنې چارې د چینایي شرکت له لوري تر سره سوي دي کوم چې په لمړي کال یې د پانګونې اندازه ۱۵۰ میلیونه ډالره وي، د راتلوونکو دریو کلونو لپاره یې د پانګونې اندازه ۵۴۰ میلیونه ډالرو ته ورسیږي.

څرنګه چې د افغانستان د پراخو طبیعي منابعو بالخصوص د هیواد په شمال کې دخامو نفتو ستري زیرمې لري په لنډ وخت کې د اوسنې عصر مطابق ډیره انرژي ورځخه لاسته راځي. دا چې همدا څېړنه د امو دریا حوزې د نفتو لاسته راوړل او د افغانستان پر اقتصاد یې اغیز باندي ده؛ نوموړی انرژي د عوایدو او کاري فرصتونو په رامینځ ته کولو کې ډیر اساسي او کلیدي رول لري. نه یوازې دا چې په صنعتي لحاظ د اهمیت وړ بلل کیږي بلکې د ژوند په ډیرو برخو کې د سهولتونو د رامینځ ته کیدو سبب ګرځي.

د افغانستان د نفتي حوزو په برخه کې د امو دریا نفتي حوزه د عوایدو له پلوه لویه او په پراخه کچه د خامو نفتو درلودونکي حوزه بلل کیږي په دې حوزه کې د هیواد او نړی په کچه پانګوال پانګونه کوي چې د کورنې کاري فرصتونو با وجود د دولت مالیاتي سیستم ته په لویه کچه کلني عواید جمع کیږي. دا څیړنه د هغې خلا د ډکیدو په اړه تر سره شوي کوم چې په یاده حوزه کې خامو نفتو د کلني عاید، خصوصي او دولتي پانګوال شرکتونه، نفتي حوزې او مالیاتي سیستم وڅیړي.

**د امو دریا حوزې هایدرولوژي**

د امو دریا حوزې ته سیحون ( Oxus ) وایې، نوموړی سیند د اسیا په مرکز کې یو لوی سیند بلل کیږي، د امو دریا سیند د هندوکش د غرونو څخه چې د افغانستان په جغرافیه د واخان په سیمه کې د پامیر له غرونو څخه سرچینه اخلي د ۲۵۴۰ کیلومتره لار وهلو سره د ارل په مرکز کې توئیږي. ارل چې د پامیر دهلیز په مینځ کې موقیعت لري یاده برخه د وریښمو د لاري یوه ځانګه په پخوا کې بلل کیده چې فعلاً کوچیان پکې اوسیږي. د امو دریا لوړه برخه چې د واخان رود له پامیر سره یو ځای کیږي او یوه مشترکه سیمه رامینځ ته کوي چې دې ته پنج وایې دا چې د سیندونو د اوبو له امله رامینځ ته کیږي د پنج سیند په نوم یادیږي. هر کله چې د پنج سیند د قرغزستان د الای غرونو څخه رابهیدونکي واخش سیند سره یو ځای شي نو له همدې برخې څخه ورته امو دریا ویل کیږي کوم چې د افغانستان د شمالي ګاونډ هیوادونو سره ۱۸۰۰ کیلومتره سرحد لري. امو دریا حوزه چې نور هیوادونه د سرحدونو په ډول سره

نښلوي چې يو له هغه څخه افغانستان ده. افغانستان د خپل حریم د خونديتوب په موخه په کال ۱۹۵۸ د پخواني شوروي اتحاد سره د سرحد په موخه د نړيوالو قوانينو په رڼا کې يو تفاهم ليک لاسليک کړ، د دې تفاهم ليک تفصيلي اړخ دا بيانول چې سرحدي کرښه نهايي شي او په اړونده سرحد کې هر ډول تجاوز د ګاونډيو هيوادونو سره د تفاهم ليک په رڼا کې حل او فصل کول دي. له دې سربيره تر ټوله مهمه موضوع دا مطرح وه، چې د امو دريا سيند نړيوال سرحد په ډول پيژندل وو. (Afghanistan, the Amu Darya Basin, ۲۰۲۱)

**د نفتو د ترکيبي برخو پيژندل:**

خام نفت يوه توره رنګه لزجي مايع پيچلي کيمياوي مخلوط کوم چې په خپل ترکيب کې يو شمير کيمياوي ترکيبونه لري دا ترکيبونه عبارت دي له اليفاتيک، اروماتيک، سلفر، نايتروجن او اکسيجن کيمياوي جوړښتونو څخه، دا کيمياوي ترکيبي برخه د بيلابيلو کيمياوي تحليلي ميتودونو په واسطه لکه ګازي کرګوموتوګرافي او ماس سپکټروميټري ميتودونو په واسطه تحليل او تجزيه کيږي چې وروسته يې د کتلي د زياتوالي په اساس هره برخه جلا کيږي او د کيمياوي صنعت عمده برخه جوړوي.(Sabawon, 2016)

**د امو دريا حوزي د نفتو لاسته راوړل**

د امو دريا حوزه د پخواني شوري اتحاد يو له هغه بډايه زيرمو څخه بلل کيږي د طبيعي ګازو په توليد کې دوهم مقام لري د امو دريا حوزي د نفتي ذخايرو په اساس د امريکا د ځمکي پيژندني اداري د سروي د اټکل په له مخي د امو دريا حوزه چې د افغانستان هيواد په شمال کې موقيعت لري د طبيعي ګازو او پټروليمو سترې زيرمې لري، يادې زيرمې عبارت دي له امو دريا او افغان تاجک څخه. د امو دريا د شته شمتني په اساس د ګازو طبعي زيرمې يې له نفتي زيرمو څخه زياتې بلل سوي دي چې يوازې په څنډيزو برخو کې يې د نفتو سترې زيرمې وجود لري، په نوموړې حوزه کې د يادو طبيعي منابعو څخه په اجمالي ډول ۲۵۰ د طبعي ګازو او تيلو سرچينې په کشفي ډول وجود لري. د نفتو ګازو د استخراج لمړنۍ چارې په ۱۹۵۶ ميلادي کال کې پيل شوي چې له دې سره په ۱۹۵۹ ميلادي کال کې د سرپل ولايت د انګوت نفتي حوزه وکيندل شوه، که څه هم دا کشفايات ۱۰۰ سلنه يقيني نه بلل کيږي اما ۱۹۱۸ – ۱۹٦٦کال پورې څه کم دوه نور کوچني ميدانونه د نفتو کشف شول چې په اجمالي ډول په امو دريا نفتي حوزه کې د نفتو مجموعي ذخاير ۱۵٦۹ ميلياردہ بشکه کشف وبلل شول. د ناسا

( د امریکا د فضایې تحقیاتو ) د څېړنو پر مټ په افغانستان کې تر ۱۰۰ پوري د نفتو سیمې کشف شوي دي. (پوپل, ظرفیت و پوتانشیل تولید انرژی در فغانستان, ۲۰۱۲ / ۰۳ / ۴). په امو دریا نفتي حوزه کې ۵۰۰ د نفتو گازو جوړښتونه د کیندلو زمینه مساعده ده. له دي جملې څخه ٦٧ نفتي ځاوې برمه کاري شوي همدارنگه ٦ نور نفتي معدنونه ثبت سوي دي. د دې حوزي د نفتو اندازه ۹٦۲ میلیونه بشکي بلل شوي دي. څرنگه چې امو دریا نفتي حوزه افغانستان په کچه یوه لویه طبعي زیرمه بلل کیږي نو له همدې امله په نړیواله کچه ۱۵۲ نفتي او گازي حوزو کې ۱۵ مقام لري. د دې حوزي د کیندلو چاري د یوه چینایې شرکت سره د ۲۵ کلونو د قرارداد له مخې لاسلیک سو یاد شرکت به ۱۵ زره بشکې نفت استخراجوي چې په کلني ډول به یې د دولت د خزاني خوني ته ۴۰۰ میلیونه ډالره جمع کیږي چې دا په واقعیت کې ۷۰ سلنه عایدات د دولت بودیجي ته جمع کیږي او پاتي ۳۰ سلنه عایدات به د شرکت خزاني ته جمع کیږي. (وثیق)

د امودریا نفتي حوزه چې د افغانستان په شمال ې موقیعت لري یو له هغه سترو طبیعي زیرمو څخه بلل کیږي چې افغانستان یې د کلنۍ بودیجي د یو اړخ په توگه پیژني، د افغانستان د کانونو او پټرولیم وزارت د امریکا د ځمکي پیژندنې د میاگین شرکت د راپور په حواله لیکي: چې د افغانستان په شمال کې د نا کشف سویو نفتو اندازه ۱،٦ میلیارده بشکه بلل کیږي. (عادلینیک, ۱۴۰۱). چې د یادې حوزي نوموړي اندازه د ولایتونو د تفکیک په اساس ۱۰۲ مقام لري د دې حوزي تر ټولو لویه نفتي برخه، څرنگه چې د نفتو مینځ ته راتلل او د هغوی منشې هایدروکاربنونه بلل کیږي نو په همدې اساس د مایع هایدروکاربونونو د نفتو هغه اندازه چې تر ۲ بیلیونه بیلیره د خامو نفتو اندازه کمه وي تر ۴۰ سلنه تیل یې ٦۰ سلنه غلظت لري، نو په همدې اساس د پورته یادو شویو سیمو د نفتو اندازه نه ده پیژندل سوي ځکه چې تر اوسه لا هم د هایدروکاربنونو ډېري د مالگو تر درنو تیرو لاندې دي. څرنگه چې د ځمکي جورا سیکي ( جیولوژیکي اصطلاح ده چې پښتو کې هم ورته جوراسیک وایې. د ځمکي تاریخي دوره کوم چې شاوخوا ۲۰۱ – ۱۴۵ میلیونونه کلونه مخکې تاریخي قدامت ولري دا په واقیعت کې د ډیناسورو د ژوند دوره وه.) د امو دریا حوزي د نفتو شتون په حقیقي ډول راته روښانه کوي(Gregory F. Ulmishek, 2004) ).

افغانستان د سیمه ایزو هیوادونو او نورو انرژیکي سرچینو په پرتله د نفتو او ګازو کمې سرچینې لري د مصرف اندازه یې هم خورا کمه لیدل کیږي دا چې د هیواد په دننه کې د نفتو او ګازو د استفادې موارد ډیر زیات دي نو په همدې اساس د سون توکو، ټرانسپورټ او بریښنا د تولید په برخه کې په مایع ډول استفاده کیږي، خو له دې سره سره د نفتو څخه تر لاسه کیدونکي تولیدي محصولات لکه: ډیزل، پټرول او د الوتکو تیل له ګاونډیو هیوادونو لکه: پاکستان او ازبکستان، ترکمنستان او ایران هیوادونو څخه واردیږي. د متحده ایالتونو د جیلوجیکي سروې د اټکل له مخې افغانستان په کمه اندازه د خامو نفتو زیرمې لري؛ د دې اټکل پر مدار د نفتي زیرمو اندازه یې شاوخوا له ۱۳-۱۴ میلیونه ټنه اټکل سوي دي، خو د کورنې تولید کچه یې د یوې سروې له مخې په ورځنۍ ډول ۴۰۰ بیلره ده. (MALIK, 4, DECEMBER, 2011). د امریکا د انرژي ورازت په ۲۰۰٦ کال کې موندلې وه چې د انګوت میدان د ٦ میلیونو بوشکو خامو نفتو په اندازه تیل لري، همدارنګه د امو دریا نفتي حوزه ۱۹۵۰ بشکي خام نفت په ورځ کې تولیدوي چې دا مقدار د افغانستان په څان بساینه کې مهم او اساسي لامل بلل کیږي. د افغانستان د اسلامي امارت له راتګ سره چینایي شرکتونو په سرپل ولایت کې ۱۰ نورې نفتي څاه وې کیندلې دي چې د افغانستان د تیلو د تولید اندازه څلور چنده زیاته شوي ده، د چینایي پانګونې اندازه په لومړي کال کې ۱۵۰ میلیونه ډالره وه، له قرار داد سره سم به دا اندازه په دریو کلونو کې ۵۴۰ میلیونو ډالرو ته ورسیږي. (نفت و معدن ستون های رشد اقتصادی افغانستان, ۱۴۰۳). د افغانستان د کانونو او پټرولیم وزارت د یو راپور په حواله چې په ۱۰ ورځو کې مو له امو دریا نفتي حوزې څخه ۱۳۰ زره ټنه خام نفت استخراج کړي دي. له دې سره مو د ۷۱،٦ میلیون ډالرو په ارزښت د خامو نفتو د تصفیه کولو قرار داد داخلي شرکتونو ته ورکړی ده کوم چې د امو دریا نفتي حوزې لمړی عاید یې ۲۵ میلیونه ډالره ده. (تسنیم, ۱۴۰۳)

**د قشقري نفتي حوزه:**

د شوري اتحاد ډیری هیوادونه په دې باور وه چې د امو دریا حوزې د نفتو اندازه په هغه وخت کې د دوی په وینا ۱۵۰ میلیونه بیلره ته رسیده، لکه څرنګه چې امو دریا نفتي حوزه د افغانستان په کچه لویه حوزه بلل کیږي د وخت د تقاضا په اساس د یادې حوزې نفتي صادرات د شوري اتحادي هیوادونو ته د پایپلین له لارې تر سره کیده چې د هیواد په عایداتو کې یې په بیساري ډول رول لوبوه او د کلنۍ بودیجې زیاته برخه یې تشکیله وله. (رضایی, ۱۳۹٦). د یوې تر سره

مروري آزاده لاسرسی

سوي مرکې په اساس ویلای سو چې په امو دریا نفتي حوزه کې ۸۷ میلیونه بیلیره تیل اټکل سوي دي، په تولیزه توګه له دې حوزې د ورځې په جریان کې ۱۳۵۰ ټنه خام نفت استخراجیږي د ۲۰۲۴ کال تر پایه به د استخراج کچه په ورځني ډول ۳۰۰۰ ټنه ته لوړه سي په داسې حال کې چې په دې حوزه کې د استخراج تر څنګ په اکتشاف هم کاروان دہ. په ۲۰۲۷ کال کې به یوازې په خالص استخراجي پروسې کار پیل سي چې له دې سره به د افغانستان حکومت کلنی نفتي عاید ۲۵۰ – ۳۰۰ میلیونو ډالرو پورې ورسیږي. له دې سره به په هیواد کې د بیکارۍ کچه نوره هم ټیټه سي چې دا مسله د غوره او باثباته امنیت په چارو کې مهم او اساسي رول لري، په یاده نفتي حوزه کې نژدې ۱۵۰۰ کسان په کار بوخت وو چې د افغانستان د اسلامي امارت له راتګ سره دا تعداد ۱۷۰۰ کسانو ته رسیدلی دہ. څرنګه چې یاده نفتي حوزه د هیواد په کچه لویه نفتي طبعي زیرمه بلله کیږي نو له همدې امله ورته د پټې خزانې لقب ورکړل شوی دہ. د امو دریا نفتي حوزه ۹ سوداګریز بلاکونه لري چې له دې جملې څخه یې قشقره، انګوت او اق دریا حوزې د استخراج تر پروسې لاندې دي په یادو حوزو کې لمړنۍ حوزه د انګوت نفتي حوزه بلله کیږي. په انګوت سیمه کې ٦ څاګانې کیندل شوي چې په ورځني ډول ۱۰٦ ټنه نفت لاسته راځي، په اق دریا کې ۳ څاګانې کیندل شوي، په قشقره کې ۱۵ څاګانې کیندل سوي چې ۱۳۵۰ ټنه نفت ورځخه استخراجیږي همدارنګه له ۲۰۲۴ کال راهیسته په اق دریا حوزه کې ۱۲ څاګانې په ۹ میاشتو کې وکیندل سوي. څرنګه چې د امو دریا نفتي حوزې د نفتو د استخراج چارې له اپ چین چیني شرکت سره د ۲۵ کلونو د قرارداد له مخې تر سره کیږي( Dilawar, TOLOnews, personal interview)

**فاریاب ولایت کې د خامو نفتو سرچینې:**

په ۱۴۵۴کال کې د وخت د حاکم دولت له لوري د شوري اتحاد متخصصینو ته د فاریاب ولایت کې د د نفتو د استخراج چارې په قرارداد ورکړل شوې. د یاد ولایت د علي ګل په سیمه کې د نفتو یوه څاه چې تر ۱۰۰۰ متره لاندې یې د خامو نفتو د موجودیت اټکل کیده د استخراج په موخه په قرارداد ورکړل شوه همدارنګه یو بله د نفتو څاه چې د اندخوي ولسوالي په خواجه اسپلان سیمه کې یې موقیعت درلود د خامو نفتو داستخراج په موخه په قرارداد ورکړل شوي. د دوه نورو نړیوالو ( ترکي او امریکایې ) شرکتونو سره په خانچارباغ سیمه کې د نفتو د استخراج د چارو د پیلیدو تفاهمنامه لاسلیک شوه چې په نژدې راتلونکي کې به یې

مروري آزاده لاسرسی

کارونه پیل شي له دې سره د همدې شرکتونو د څېړنکو د اټکل له مخې په ځینو نورو ولسوالیو کې لکه المار، قرمقل او شیرین تګاب کې هم بعضې د نفتي سرچینو علایم لیدل شوي دي، یو کال وروسته یعنې په ۱۴۵۵ کال کې په قیصار ولسوالي کې ۷ نورې نفتي څاګاوې وکیندل شوي چې له دې جملې څخه یې یوه څاه چې ۱۰۰۰ متره ژوروالی یې درلودی د نفتو اندازه یې ۲،۳ میلیارده ټنه بلل کېده استخراج شوه، د نورو نفتي حوزو د استخراج چارې د ۹ میاشتو لپاره نړیوالو کمپینو ته ورکړل شوي. چې د قرارداد د اصولو له مخې به یې ټاکلې اندازه عاید د افغانستان دولت ته ورکول کیده کوم چې د هیواد په عایداتو کې د یو لوی تغیر او یوه لویه لاسته راوړه بلل کیږي. (فاریاب, ۱۳۹۸)له چینایي افچین شرکت سره د قرارداد له مخې د دې ولایت څخه تر اوسه ۱۰ ټنه خام نفت استخراج کړي دي. (ایران, ۱۴۰۱).

څرنګه چې افغانستان په پراخه کچه د هایدروکاربني معدني موادو طبیعي زیرمې لري چې عایداتو اندزه یې تر ۳ ټریلیونه ډالرو پوري رسیږي یاده طبیعي سرچینه کولای شي چې د افغانستان د کورنۍ اړتیا پوره کړي. د قشقري او انګوت په میدانونو کې د ورځې ۶۵۰۰۰ بشکې نفت تولیدوي چې د هري نفتي بشکې قیمت ۵۰ ډالره بلل شوی ده چې شاوخوا به ۱،۵ میلیارده ډالره سپم کړي. دا د افغانستان د کورني تولید په برخه کې په لویه کچه عایداتي سرچینه بلل کیږي د دې ډول عایداتي سرچینې په دوام سره کیدایشي چې د نفتو د تولید کچه په ورځني ډول تر ۱۲۵۰۰۰ بشکو پوري ورسیږي او ۲،۲۵ میلیارده ډالره عاید ورکړي. (Assessment of oil and gas resources of northern Afghanistan)

### د څېړنې موندنې

د دې څېړنې موندنې ښیې چې:

۱-د افغانستان په شمالي ولایتونو کې د امو دریا حوزه چې د نورو هیوادونو سره د افغانستان د اتصال یو مهمه مشترکه سیمه بلل کیږي.کوم چې په لویه کچه د طبیعي لکه نفتو او ګازو ستره زیرمه بلل کیږي یاده سیمه د افغانستان په اقتصادي وده او څان بسانه کې کلیدي رول لوبوي، په دې وروستیو کې یې د استخراج چارې له یو لړ نړیوالو او داخلي شرکتونو سره د تفاهم لیک له مخې تنظیم شوي دي.

۲- د امو دریا نفتي حوزه د افغانستان څو محدود ولایتونه په بر کې نیسي کوم چې په یادو ولایتونو کې د نفتو خاوي د بهرنیو متخصصینو له لوري کشف او د خامو نفتو اندازه یې له کلني عوایدو سره ضم تشخص کړه.

۳- د دې څېړنې د موندنو په اساس چې د امو دریا نفتي حوزي اړونده تر سره شوي ښیې چې د کورنې شرکت سره یې د استخراج د قرار داد چارې د یو تفاهم لیک له مخې تر سره شوي دي په کلني ډول یې د عوایدو اندازه په ۱۰ ورځو کې د ۱۳۰ زره ټنه خامو نفتو استخراج تر سره کړی د یاد قرار داد له مخې یې د ۷۱،۶ میلیونو ډالرو په اندازه پانګونه کړې ده چې دا د هیواد په کلني عوایدو کې یو لوی ظرفیت بلل کیږي چې اندازه یې ۲۵ میلیونه ډالره ده.

۴- د دې تحقیقي اثر پر مټ چې د چین هیواد د افچین د تیلو ملي شرکت یې د امو دریا حوزي د خامو نفتو د استخراج چارې د دوه اړخیز تفاهم لیک له مخې ترتیب شوي څېړي، په ورځني ډول به ۱۵ زره بشکې نفت استخراجوي چې په دې سره به په کلني دول د دولت خزانې ته ۴۰۰ میلیونه ډالره جمع کیږي، پر دې سربیره به یاد شرکت هم د اصولو له مخې خپله اندازه عاید تر لاسه کوي.

## د څېړنې میتودلوژي

دا څېړنه د ماهیت له مخې کیفي د هدف له مخې تحلیلي څېړنه ده، په دې څېړنه کې د افغانستان د امو دریا نفتي حوزي د نفتو اقتصادي اغیز په هکله معلومات تحلیل شوي دي. دا څېړنه هڅه کوي چې تحلیل کړي د امو دریا حوزې د نفتو لاسته راوړل، د کارموندنې فرصتونه، د هیواد پر اقتصادي سکټور او همدارنګه د دولت پر کلني عوایدو اغیز تحلیل کړي. په دې څېړنه کې له لومړنیو سرچینو څخه تر لاسه شوې معلومات د کانونو او پټرولیم وزیر، په اړونده حوزه کې د انرژۍ مسلکي کسانو او همدارنګه په یاده حوزه کې د کارکوونکو له مرکو څخه لاسته راغلي معلومات تحلیل شوي دي، په دې څېړنه کې دوهمي سرچیني څخه تر لاسه شوی معلومات، د علمي کتابونو، څېړنیزو داخلي او نړیوالو مقالو، د کانونو پټرولیم وزارت راپوروونو او اقتصادي راپورنو په اساس چتمو شوي دي.

## د څېړنې ستونزه

دا چې افغانستان په پراخه کچه د طبیعي منابعو لرونکی ده خصوصاً امودریا نفتي حوزه چې د هیواد شمالي ولایتونه په بر کې نیسي؛ خو متاسفانه په تیرو څو لسیزو کې د سیاسي جریانونو

مروري | آزاده لاسرسی

په ترڅ کې د صنعت په برخه کې له پراخو ننګونو سره لاس او ګریوان وو او یاده برخه په نسبي ډول له پامه غورځیدلې وه، په همدې اساس دا څېړنه غواړي چې له امو دریا نفتي حوزي څخه د تر لاسه کیدونکو کلنې عواید او د افغانستان پر مالیاتي سکتور د دې حوزې مثبت اغیز تحلیل کړي، ځکه په یاده موضوع څرنګه چې لازم دي داسې پراخ مطالعات او څېړنې ورباندي نه دي شوې او یا هم پوره معلومات لوستونکو ته نه دي رسیدلې. نو د همدې لپاره دا څېړنه تر سره کیږي چې همدا خلا ډکه کړي.

**د څېړنې سوالونه**

۱-د امو دریا حوزي د نفتو لاسته راوړل د افغانستان پر اقتصاد څومره اغیز لري؟

۲- د امو دریا حوزي د نفتو د لاسته راوړلو پروژه کې نړیوالو شرکتونو پانګونه کړي ده؟

۳- د امو دریا نفتي حوزي د نفتو لاسته راوړل په اقتصادي لحاظ د افغانستان په ځان بساینه کې څه اهمیت لري؟

**مناقشه:** ( Discussion )

د دې څېړنو موندنو وښودله چې د امو دریا نفتي حوزه چې د افغانستان او سیمه ایزو ګاونډیو هیوادونو تر مینځ یو مشترکه سیمه بلل کیږي او په افغانستان کې یې ځیني ولایتي سیمې په خپل برکې نیولې یاده سیمه د افغانستان لپاره یوه حیاتي او اقتصادي طبیعي زیرمه بلل کیږي. چې د همدې څېړنې یاده موندنه د کانونو او پټرولیم وزارت د یو خپور شوي راپور پر اساس د هغه د زیاتو موندنو څخه دا هم وو چې د امو دریا نفتي حوزه یو له مهمو او ستراتیژیکو اقتصادي نفتو زیرمو څخه بلل کیږي. سره له دې د همدې تحقیق موندنو دا څرګنده کړه چې د امو دریا نفتي حوزي د تیلو استخراج د هیواد د اقتصادي او پراختیا په برخه کې اساسي او کلیدي رول لوبوي چې د داخلي پانګونې سربیره نړیوال شرکتونه هم په پوره باور او لیوالتیا سره پانګونه تر سره کوي چې همدا موندنه د کیمیني تحقیقي اثر چې په ۲۰۲۴ کال کې یې تر سره کړی وو حمایه کوي د کیمیني څېړنه ښیي چې افغانستان تر اوسه پوري ۱۵۰ زره ټنه خام نفت د ۸۰ میلیو نو ډالرو په اندازه پلورلي دي کوم چې کلنی عاید یې تر ۴۵۰ میلیونه ډالرو پوري رسیږي چې دا خپله د یو هیواد په کلني عوایدو کې لوی مثبت تغیر بلل کیږي. د یوې څېړنې له مخې چې د بهرنیو شرکتونو لکه د افچین د تیلو ملي شرکت سره د یادې حوزې د استخراج چاري لغوه اعلان شوي وې پر همدې سربیره د همدې څېړنې موندلو وښودله چې د امو دریا

نفتي حوزي د خامو نفتو د استخراج چارې د شرکتونو سره د تفاهم لارې تر سره کېدې د ځینو غوره اقتصادي نویو لارو په بدیل یې چارې بیرته په عادي ډول پیل شوي دي.

**پایله:** ( conclusion )

د امو دریا نفتي حوزه د هایدرولوژي په لحاظ د ازبکستان او نورو ګاونډیو هیوادونو سره د یو اوبیز سرحد په ډول پیژندل کیږي. څرنګه چې د امو دریا نفتي حوزه د افغانستان په شمال کې یو له هغه مشترکه د نفتو ګازو ستره زیرمه له نورو ګاونډیو هیوادونو سره بلل کیږي کوم چې د افغانستان د طبیعي منابعو په خاص ډول د نفتو په برخه کې په کافي اندازه ذخیرې لرې چې اهمیت یې د نړیوالو او داخلي شرکتونو د پانګونې په برخه کې راجلب کړی ده، د دې څېړنې د موندنو په اساس چې د امو دریا نفتي حوزې اړونده تر سره شوي ښیي چې د کورنې شرکت سره یې د استخراج د قرار داد چارې د یو تفاهم لیک له مخې تر سره شوي دي په کلنې ډول یې د عوایدو اندازه په ۱۰ ورځو کې د ۱۳۰ زره ټنه خامو نفتو استخراج تر سره کړی د یاد قرار داد له مخې یې د ۷۱،٦ میلیونو ډالرو په اندازه پانګونه کړې ده چې دا د هیواد په کلنې عوایدو کې یو لوی ظرفیت بلل کیږي چې اندازه یې ۲۵ میلیونه ډالره ده. د دې څېړنې موندلو دا هم وښودله چې د افغانستان څو محدود ولایتونه د دې حوزې برخه جوړوي کوم چې د نفتو خاوو یې د افغانستان پر اقتصادي ودې په لویه کچه اغیز لرې چې له دې سره یې د کورنیو عوایدو کچه لوړه کړې ده. د دې حوزې کلنی عاید چې د دولت خزانې ته به جمع کیږي ۵۴۰ میلیونه ډالره دي.

**وړاندیزونه**

څرنګه چې د همدې څېړنې اصلي هدف د افغانستان پر اقتصادي ودې د امو دریا نفتي حوزې د نفتو اقتصادي اغیز څېړې نو په همدې اساس د ساینسي علومو ټولو څېړونکو ته په وړاندیز کیږي چې په راتونکي کې په لاندې برخو کې څېړنې تر سره کړي.

۱- د افغانستان د اقتصادي ودې لپاره د امو دریا نفتي حوزې ته د نړیوالو او داخلي شرکتونو جذبولو لپاره لارې چارې برابرول.

۲- د هیواد په نورو ولایتونو کې د نفتي زیرمو په هکله څېړنې تر سره کول.

۳- د امو دریا نفتي حوزې څخه د نفتو د استخراج په جریان کې د چاپیریال ساتنې په موخه موثرې لارې چارې څېړل.

۴- د امو دریا نفتي حوزي د نفتو د استخراج په جریان کې د مسلکي کسانو خصوصاً افغانانو ګمارل.

۵- په افغانستان کې د طبیعي منابعو استخراج په سالم ډول مدیریت کول.

**اخځلیکونه:**


افغانستان، ب .ت .(1403) .نفت و معدن؛ ستون‌های رشد اقتصادی افغانستان .کابل :بررسی تحولات افغانستان

ایران، ا .ب .(1401) .پایش تحولات تجارت جهانی .تهران :مرکز پژوهش‌های ایران
Official email: info@rc.majlis.ir

تسنیم، خ .(1403) .افزایش تولید نفت خام در افغانستان .خبرگزاری تسنیم .
Official email: info@tasnimnews.com

رضایی، م .(1396) .منابع نفت و گاز و سیاست‌های اقتصاد .

عادلینیک، ح .(1401) .بهره‌برداری از ظرفیت‌های معدنی افغانستان .تهران :موسسه مطالعات و پژوهش‌های بازرگانی
Official email: info@itsr.ir

فاریاب، ر .ا .(1398) .چشم‌انداز انکشاف اقتصادی و اجتماعی ولایت فاریاب .ریاست اقتصاد ولایت فاریاب

وثیق، ا .ق .(n.d.) .بررسی منابع نفت و گاز افغانستان

پترولیم، و .م .(1402) .داوطلبی فروش نفت خام ساحات قشقری و انگوت ولایت سرپل . کابل، افغانستان :وزارت پترولیم
Official email: info@petroleum.gov.af

پوپل، ک .(2012) .ظرفیت و پوتانشیل تولید انرژی در افغانستان

Abe, Z. M. (2023). Increasing recoverable oil in northern Afghanistan Kashkari. Energies, 17.
Official email: energies@mdpi.com

Ahmad Tamim, M., & P. V. (2020). Assessment of oil and gas resources of northern Afghanistan. Materials Science and Engineering, 8.

Ahmady, A. (2015). Afghanistan: Oil and gas industry. Kabul, Afghanistan: Ministry of Commerce and Industries & World Bank/USAID.
Official email: info@moci.gov.af
Arne, S., & Hovden, M. (2010). Afghan hydrocarbons. Bergen, Norway: Chr. Michelsen Institute.
Official email: info@cmi.no
Brown, J. D. (2013). Oil fueled? The Soviet invasion of Afghanistan. Post-Soviet Affairs, 40(1), 1–20.
Dawar, A. S. (2025). Analysis of challenges and solutions in the oil extraction process of Afghanistan. KPU International Journal of Engineering & Technology, 15(1), 15–25.
Official email: ijet@kpu.edu.af
Dawi, A. (2024). Afghan oil production jumps with $49 million Chinese investment. Associated Press.
Official email: info@ap.org
Ministry of Finance. (2023). The process of extracting petroleum from a new well in Qashqara region has been started. Kabul, Afghanistan.
Official email: info@finance.gov.af
Gregory, F. U. (2004). Petroleum geology and resources. U.S. Geological Survey.
Official email: info@usgs.gov
Kamil, I. (2021). Afghanistan, the Amu Darya Basin and regional treaties. Chinese Journal of Environmental Studies, 26(2), 45–60.
Kimani, A. (2024). Afghanistan Taliban report $80 million in crude oil sales in 10 days. OilPrice.com.
Official email: support@oilprice.com
Mahd, Z. (2023). Increasing recoverable oil in northern Afghanistan Kashkari. Energies, 17.
Official email: energies@mdpi.com
Malik, N. (2011). Energy resources in Afghanistan and measures to develop them. Journal of Sustainable Energy, 2(11).
Sabawon, A. (2016). Estimation of petroleum source rocks based on the crude oil geochemistry in Amu Darya Basin, northern Afghanistan. Journal of the Japanese Association for Petroleum Technology, 13.
Official email: office@japt.org
Tughyan, M. (2025). A look at the oil and gas industry of Afghanistan. Journal of Mechanical, Civil and Industrial Engineering, 6(2), 30–40.
Official email: jmcie@al-kindipublisher.com

آزاده لاسرسی

مروري

Yu, Y. (2015). Division and resources evaluation of hydrocarbon plays in the Amu Darya Basin, Central Asia. Online English Edition of the Chinese Language Journal, 8(3), 55–68.